**د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق**

# د کاروبار د وضعیت سروې

## د ۱۳۹۵ کال د وري میاشت

د جي ای زیډ ادارې په همکارۍ

**د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق**

د کاروبار د وضعیت سروې

د ۱۳۹۵ کال د وري میاشت

- د تیري سروې په پرتله متشبثین د خپل کاروبار راتلونکي ته خوښ ښکاري.
- د کاروبار په وضعیت کې د لږ ښه والي سره سره له بلخ ولایت څخه پرته د سروې شویو ولایتونو له ډلې د یوه هم د کاروبار شاخص مثبت نه دی.
- که څه د تېرې سروې په پرتله د پام وړ ښه والی رامنځته شوی، خو فرمایشات لا هم په ناوړه وضعیت کې دي.
- د تېرې سروې په پرتله په قندهار، هرات، کابل او ننګرهار ولایتونو کې امنیتي حالت ښه شوی دی خو یوازې د قندهار ولایت مثبت امنیتي شاخص لري.
- په وروستیو سروې ګانو کې د اصلاحاتو لپاره هیلې او غوښتنو زیاتوالی موندلی دی.

**الف. د کاروبار شرایط**

د کاروبار شرایط د کورنیو ناخالصو تولیداتو د ودې د تګلورې د پیژندني لپاره یو شاخص دی. دغه شاخص د څو راتلونکو میاشتو لپاره د کورني ناخالص تولید په کچه کې د بدلونونو وړاندوینه کوي، په دې شرط چې په دې موده کې د اقتصاد په عمومي شرایطو کې د وړاندویني وړ بدلونه رامنځته نه شي.

د کاروبار د شرایطو شاخص د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د کاروبار د وضعیت او سوداګریزو هیلو په اړه د شرکتونو د مسوولینو پر قضاوت ولاړ دی، چې د منل شوي نړیوال معیار له مخې محاسبه کیږي( د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور په پای کې ضمیمې ته مراجعه وکړئ)

د دې شاخصونو بیه د مثبت ۱۰۰ او منفي ۱۰۰ ترمنځ ده، هغه داسې چې صفر د عادي په مفهوم دی، له صفر نه تر مثبت ۱۰۰ پورې د کاروبار مثبت شرایط او له صفر نه تر منفي ۱۰۰ پورې د کاروبار منفي شرایط بلل کیږي.

## الف.1- د کاروبار عمومي شرایط او د هر ولایت په توپیر د کاروبار شرایط:

د کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات لپاره د ۱۳۹۵ کال د وري په میاشت کې د کاروبار د عمومي شرایطو شاخص په مجموع کې(۰۷۲.۹-) و، په داسي حال کې چې په مخکینی سروې کې دغه شمیر(۱۸.۸۶۵-) ؤ. د تېرې سروې په پرتله متشبثن د خپل کاروبار په اړه نسبتاً خوشبین دي.

سروې شوي شرکتونه اوس هم هیله من دي چې په راتلونکو میاشتو کې به یې د کاروبار وضعیت ښه شي(۳۵.۸۹)، خو دغه شرکتونه له اوسمهالي حالت نه سخت ناخوښه دي. (۱۱.۵۴-)




د کندهار متشبثين د ناخوښی په ټيټه درجه کي دي، دا هغه څه دي چي په دې وروستيو سروګانو کي بې ساری دی. د کندهار په سروې شویو شرکتونو کي د دې ناخوښی لامل د خپل راتلونکي کاروبار په اړه د هغوی ژوره اندېښنه ده. هغو د خپل کاروبار اوسنی حالت له کابل، او ننګرهار نه ښه بولي، خو د راتلونکو شپږو مياشتو په اړه بدبين دي. تر کندهار وروسته د کابل، هرات او ننګرهار وضعيت خراب دی، خو د بلخ متشبثين د راتلونکو شپږو مياشتو لپاره هيله من دي. لکه څنګه چي په (۲) ګراف کي معلوميږي بلخ، کابل او هرات د تيرې سروې په پرتله خوښ دي او په غوره وضعيت کي دي .1 خو لکه څنګه چي وينئ دغه خوښي نسبي ده او اوس هم د هر ولايت د کاروبار عمومي شاخص منفي دی.

د وروستيو څو سروې ګانو د شمېرو څېړنه او پرتلنه د کاروبار چاپېريال ډېر بې ثباته نامناسبه ښکاروي.

## الف.۲ـ د سکتور په تفکيک د کاروبار شرايط:

په څلور واړه سکتورونو کي د کاروبار د وضعيت سروې د تيرې هغې په پرتله نسبتاً ښه والی په ډاګه کوي. د ساختمان سکتور د نورو په پرتله په بد حالت کي دی او توليدي سکتور په ښه حالت کي دی. خو د توليدي سکتور د رضايت کچه هم منفي ده.

[1] تر سروې لاندې سيمي د وخت په تيريدو سره له دوو زونونو کابل او بلخ څخه د هېواد پنځو مهمو اقتصادي زونونو ته زياتوالی موندلی دی، چي په لاندې ډول دي:
IV-2012: کابل او بلخ
IV-2013: کابل، بلخ او کندهار
I-2014: کابل، بلخ، کندهار او ننګرهار
II-2014 تر اوسمهاله: کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات

لکه څنګه چې په (۳) ګراف کې ښودل شوي دي، خدماتي او سوداګریز سکتورونه هم د کاروبار له بد حالت څخه ځوریږي. د کاروبار د اوسنیو شرایطو لپاره د مثبتو او منفي ځوابونو حاصل تفریق هم ښيي چې د بریالي سکتور لپاره له کاروبار څخه د رضایت کچه ۵۷.۹۳- او د زیانمن سکتور لپاره ۵۱.۷۲- ده. د یادوني وړ ده چې ځواب ورکوونکو د تیرې سروې په پرتله د راتلونکي په اړه ډیره هیله مندی ښودلی ده.




د سروې شویو شرکتونو په هیلو کې له لږ هیله منتیا سره سره، وروستی دري سروې ګاني ښيي چې د کاروبار واقعي حالت یا وضعیت خراب شوی دی او د راتلونکي په اړه د سوداګرو خوشبیني هم کمه شوي ده.

### الف .۳- د شرکتونو د کچې په تفکیک د کاروبار شرایط:

د ټولو کوچنیو، منځنیو او سترو متشبثینو لپاره د کاروبار شرایط د تیرې سروې په پرتله ښه ښودل شوي دي.

د ۱۳۹۵ کال د ورې په میاشت کې د کوچنیو او منځنیو شرکتونو لپاره د کاروبار د شرایطو کچه (۲۷.۴۱-) وه، خو اوسمهال دغه کچه (۱۴.۷۴-) ته لوړه شوي ده.

د سترو شرکتونو لپاره د کاروبار د شرایطو کچه (۱) ده، په داسې حال کې چې په تیره سروې کې دغه شمیره (۷.۵-) وه.




**ب. فرمایشونه**

د کاروبار د حالت د ارزوني لپاره یو بل فکتور د فرمایشونو حالت دی. د یادوني وړ ده چې د تفریق د حاصل شمیرې مثبت او منفي ځوابونه دي.

فرمایشونه په بدحالت کې دي او ډېری ځواب ورکوونکو ویلي دي که څه هم د تېرې سروې (63.57-) په پرتله د پام وړ ښه والی (۷۹.۶۱-) رامنځته شوی دی.







له ۱۳۹۱ لمریز کال څخه را په دې خوا د فرمایشونو د برخي ښېرنه ښيي چي د فرمایشونو د اوسني حالت په اړه د متشبثینو د رضایت کچه په پرله پسي ډول کموالی موندلی دی. خو په دې سروې کې په کابل کې د تیرې سروی په پرتله فرمایشونه یو څه ښه شوي دي خو په دې سروې کې یې بیا کموالی موندلی دی.

**ج- د ګمارنې هیلې :**

په ټوله کې د سروې شویو شرکتونو مدیران او مالکان په درېیو راتلونکو میاشت کې د ماهرو کارکوونکو ګمارنې ته خوشبین دي.

د ګمارنې لپاره د متشبثینو د عمومي هیله منتیا شاخص د سکتور له تفکیک پرته (۱۳.۴) دی چې د تیرې سروې په پرتله (۱۱.۴۳-) دا شمیر ډیر تیټ دی.




د یادونې وړ ده چې د ګمارنې اوسنی وضعیت د تیرې سروې د ځواب ویونکو د هیلو په پرتله ډېر توپیر لري.

د لږم په میاشت کې شرکتونو ویلي و چې هیله لري په درېیو راتلونکو میاشتو کې د ګمارنې کچه په منځنی کچه شاوخوا (۱۱.۴۳-) سلنه کموالی ومومئ، خو له دې سروې سره سم په درېیو تیرو میاشتو کې یې نزولي لوری خپل کړی دی. د هغو ځواب ویونکو شمېر چې ویلي یې دي کارکوونکي یې کم شوي ۴۶.۶۱- سلنه د هغو کسانو څخه زیات دي چې ویلي یې دي، په تیرو درېیو میاشتو کې یې د کارکوونکو شمیر زیات شوی دی.

ودانیزو شرکتونو (۶۱.۹۱-) او سوداګریز سکتور (۵۳.۱-) خپل کارکوونکي ، د خدمات (۴۰.۶۹-) او تولیدی سکتور د (۳۶.۳۶-) په پرتله زیات کارکوونکي له لاسه ورکړي دي. دا سروې ښیي چې د تېرو درېیو میاشتو په پرتله ټول شرکتونه په راتلونکو شپږو میاشتو کې د ګمارنې د کچې لوړېدو په هکله خوشبین دي.

**د.امنیتي حالت**

په کابل، بلخ او هرات کې امنیتي حالت ښه شوی دی. په داسي حال کې چې په کندهار او ننګرهار کې امنیتي حالت بدتر بنودل شوی دی.




**هـ: د کاروبار پر وړاندې پراته خنډونه:**

د کاروبار پر وړاندې د عمده خنډونو ارزونه ښيي چې د کافي امنيت نشتوالی د متشبثينو د کاروبار د پرمختيا پر وړاندې تر ټولو مهم خنډ دی. تر امنيت وروسته په ترتيب سره د توليداتو او خدماتو لپاره بازار او تقاضا، پياوړي بيخ بناوې، مالي سرچينو ته لاسرسی او اداري اصلاحات هغه لاملونه دي چې د اقتصادي کاروبار د پرمختګ لپاره اړين شمېرل کېږي. لکه څنګه چې په ګراف کې وينئ د اداري اصلاحاتو لپاره هيلې په شپږو وروستيو سروې ګانو کې زياتې شوې او د څلورم ځل لپاره د هغو کسانو شمير چې د خپل کاروبار د پراختيا او پرمختيا لپاره تر ټولو مهمه اړتيا اداري اصلاحات بولي د هغو کسانو په پرتله زيات شوی چې د خپل کاروبار لپاره لومړۍ اړتيا بيخ بناوې په ګوته کړې دي.




## ضمیمه:

### د کاروبار تعریف

د کاروبار شرایط د تولیدي، ودانیزو، خدماتي او سوداګریزو شرکتونو د دوریي سروې پر بنسټ مشخص کیږي. د شرکتونو له مسوولینو څخه د اوسني وضعیت او د راتلونکو شپږو میاشتو د هیلو او تقاضاوو په اړه پوښتل کیږي. هغوی د خپل کاروبار وضعیت د دریو انتخابونو( له عادي څخه ښه، عادي، له عادي بدتر) او خپلې هیلې یې له دریو انتخابونو څخه د یوه په انتخاب سره( ښه به شي، بدلون به ونه کړي، بدتر به شي) ټاکي.

له عادي څخه ښه انتخاب مثبت او له عادي بدتر منفي انتخاب فرض کوو، د اوسني وضعیت شاخص د مثبتو او منفي ځوابونو د تفریق له سلنې یا فیصدی څخه ترلاسه کیږي. دغه راز د هیلو شاخص د « ښه به شي» او « بدتر به شي» د انتخابونو د فیصدی ترمنځ له توپیر څخه ترلاسه کیږي.

د کاروبار شرایط د کاروبار د وضعیت او هیلو د اوسطي حسابی څخه عبارت دي.

په لومړی سروې کې « عادي» او « بدلون به ونه کړي» انتخابونو ته د صفر نکته په پام کې نیول کیده. د کاروبار شرایط له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ پورې (زیات) او منفي ۱۰۰ ( کم) کولای شي، بدلون ومومي. وروسته چې کله زماني سروې ګانې(time series) رامنځته شوې د کاروبار د صفر نکته د کال د سروې پایلو ته په پاملرنې سره ټاکلی معیار ګرځي او راتلونکي کلونه د هغه پر بنسټ سنجول کیدایی شي.

---

**چمتوکوونکی:** یونس نګاه، تمنا نظر او ډاکټر مسعود پروانفر

**مرکه کوونکي:** نصرت الله ویس، عبدالبصیر و عبدالقدیر

**ژباړه:** احمد جاهد اتل

**د تحقیق د دفتر بریښنالیک:**research1@acci.org.af